# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

**د هستی نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تيری ونه کړئ.

زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړی ، نړی والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۱۷ وری ۱۴۰۲ هـ ش | ۱۵ رمضان المبارک ۱۴۴۴ هـ ق | ۶ اپریل ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۳۱)


## د سترې محکمې د عالي شورا ۲۰ مه غونډه ترسره شوه




د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۴/۹/۶ هـ ق)نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرى د سترې محکمې د عالي شورا ۲۰مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرى جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ) صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو پنځو(۵) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د يادو موضوعاتو اړوند فيصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا دغه ناسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

## د قضائي پلټنې عمومي رياست مسلکي غړو د لغمان ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام او د قضائي تفتيش د عمومي رئيس محترم مفتي محمد ابراهيم جان (ابوالحفاظ) په هدايت د دغه رياست د معاون محترم حافظ مولوي عبدالولي (محمود) په مشرى يوه پلاوي چې محترم مولوي عبدالبصير (غزنوي) او محترم مولوي جمعه ګل (منصف) يې غړيتوب درلود، د ۱٤٤٤ هجري قمري کال د شعبان مياشتې په (۱۴)مه نېټه د لغمان ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړلو په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

ياد پلاوي د سفر په پيل کې د لغمان ولايت د مرافعه محکمې له رئيس صاحب سره وکتل؛ ورپسې يې د بنديانو د ستونزو د څېړلو په موخه د لغمان له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه او د ياد محبس نارينه او ښځينه بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت او شکايتونه يې له ځان سره نوټ او له اړوند محاکمو سره شريک کړل.

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست دغه پلاوي د پلټنيز بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخيزه پلټنه ترسره کړه، د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو په اړه يې بشپړ معلومات واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمي لارښووني وکړې.

ياد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره نوټ کړل او په لومړي قدم کې يې د ښاري محکمې په ديوانونو کې شته مشکلات د ښارې محکمې له رئيس صاحب سره شريک کړل، په دويم قدم کې يې د ستونزو د هواري، د خنډونو د له منځه وړلو او د نيمګړتياوو د اکمال په اړه د لغمان ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات يې په جلا،جلا توګه ورسره شريک کړل.

دغه راز مؤظف پلاوي د ياد ولايت د محاکمو له برحاله قضاتو څخه ظرفيتي ازموينه واخيسته، د محاکمو پر وړاندې شته ستونزې او د خلکو شکايتونو يې په دقيق او هر اړخيزه توګه وڅېړل.

د قضائي تفتيش د پلټنې پلاوی د ۱٤٤٤ هجري قمري کال د شعبان مياشتې په ۲۳مه نېټه خپل سفر په داسې حال کې چې له لاسته راوړنو ډک و، پای ته ورساوه.

## هيئت بلند رتبۀ ديوان مدنی ستره محکمه به ولايات بغلان، کندز و بلخ سفر کرد

به تاريخ ۱٤٤٤/۸/٤ هـ ق يک هيئت قضائی بلند رتبۀ ديوان مدنی تحت رهبری محترم شيخ قيام الدين (قانت) رئيس ديوان مدنی ستره محکمه غرض تحقيق و بررسی اجراآت قضائی بعضی دوسيه‌های مهم و پيچيده، جهت فيصله نهائی به ولايات بغلان، کندز و بلخ سفر نمود.

در اين سفر مدت شش روز را در ولايت بغلان سپری نمود، طی شش روز علاوه از اين که همراه رئيس استيناف و رئيس ديوان مدنی استيناف آن ولايت در مورد بعضی موضوعات مهم و طرزالعمل های قضائی صحبت گرديد؛ در مورد (٦) دوسيه مهم تحقيقات و اجراآت لازم صورت گرفت که در بعضی موضوعات مدعی بها نيز از نزديک هيئتی و مشاهده گرديد و تصميمات لازم گرفته شد.

بعداً هيئت متذکره عازم ولايت کندز شد و طی مدت ۱۲ روز در آن ولايت بيشتر از (۱٥) دوسيه مورد نظر تحت تحقيق و بررسی همه جانبه قرارداد؛ البته در موارد قابل لزوم بعضی جاهای تحت دعوی از نزديک هم مشاهده گرديد و در مورد بعضی موضوعات تحقيقات املاکی نيز انجام داده شد، که در نتيجه دوسيه های متذکره برای فيصله های نهائی آماده گرديد و بزودی در مورد آنها فيصله های نهائی صورت خواهد گرفت.

در ضمن همراه قضات مرافعه و رئيس ديوان مدنی مرافعه اين ولايت در مورد بعضی موضوعات و روش های قضائی تبادله نظر صورت گرفت.

بعد از آن هيئت مذکور راهی ولايت بلخ گرديد و در آن ولايت نيز بعد از صحبت و مشوره با رئيس استيناف و رئيس ديوان مدنی آن ولايت به تحقيق و بررسی (۹) دوسيه پرداختند.

در مورد دوسيه های متذکره تحقيقات املاکی و ديگر اجراآت مقتضی را انجام داده اند.

قابل ياد آوری است که دوسيه های متذکره بخاطر نواقص شرعی و اداری قبلاً نقض گرديده بود و طبق هدايت مادۀ (۲٦۳) اصولنامه اداری حق تصميم گيری نهائی مربوط همين ديوان مدنی ستره محکمه ميباشد.

از جانب ديگر بعضی موضوعات دوسيه های متذکره مغلق و پيچيده بود؛ نياز داشت که مدعی بها از نزديک ديده و کروکی آن گرفته شود.

هيئت ديوان مدنی بعد از انجام اجراآت که در نظر بود، به تاريخ ۱٤٤٤/۸/۲۹ هـ ق دوباره به کابل برگشت.

**د شريعت مأخذونه**

**پنځمه برخه**

**درېيم: اجماع**

اجماع د ټولو علماوو لخوا دليل ګرځول شوی دی.

د اجماع د ډولونو او هغه مسائلو چې تعلق ور سره لري د اصول الفقه په کتابونو کې ذکر شوی دی.

**څلورم: قياس:**

جمهورو په دې اجماع کړې ده، چې قياس شرعي دليل دی.

د قياس اصول، شرائط او قاعدې د اصول الفقه په کتابونو کې په تفصيل سره ذکر شوي دي.

اخذليک: تتمة النظام، ۲۵ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

# گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## طی دو هفته در دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ زون سوم شهر کابل (۱۰۱) دوسیه حل و فصل گردیده است

گزارش اجراآت دو هفتهٔ بخش‌های جزائی و حقوقی دواوین مربوطهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ زون سوم شهر کابل از تاریخ ۱۴۴۴/۸/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۸/۱۵ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**۱. دیوان جزاء این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۸) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۴۲) قضیه فیصله شده، (۵) قضیه توسط قرار قضائی مسترد گردیده است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۱۱) قضیه فیصله شده و (۶) قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است.

**۳. دیوان مدنی این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۱) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۱۲) قضیه فیصله شده، پیرامون (۱۲) قضیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۱۳) قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است و متباقی دوسیه تحت دوران قرار دارد.

همچنان در این مدت یک وثیقهٔ طلاق خط نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت بادغیس در جریان چهار هفته علاوه بر حل و فصل (۱۶۳) دوسیه، به تعداد (۵۷) وثایق نیز اجرا کرده است

توحید راپور دوسیه‌جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بادغیس از تاریخ ۱۴۴۴/۷/۲۹ هـ ق الی ۱۴۴۴/۸/۲۸هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق محکمه ابتدائیه شهری به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**در بخش حقوقی و تجارتی:**

در جریان چهار هفته در بخش حقوقی و تجارتی به تعداد (۹۰) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۸۹ ) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته در بخش جزائی به تعداد (۵۰)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۲۳) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد .

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۵۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## طی دو هفته در محاکم دایکندی بر علاوه حل و فصل (۴۹) جلد دوسیه، به تعداد (۱۴۳) قطعه وثایق نیز اجراء شده است

گزارش اجراآت قضائی و دوسیه جات وثایق دواوین محکمهٔ مرافعه، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های نه گانه ولایت دایکندی از تاریخ (۱٤٤٤/۸/٤ الی ۱٤٤٤/۸/۱٦ هـ ق) به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش جزائی:**

در این بخش به تعداد (۱۵) جلد دوسیهٔ قضایای جزائی وارد محاکم آن ولایت شده؛ در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشته است.

از آن جمله (۸) جلد دوسیه فیصله شده است، (۲) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد شده، در مورد (۵) جلد دوسیه با صدور قرارقضائی اجراآت به عمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش حقوقی:**

در این بخش به تعداد (۲۰) جلد دوسیه قضایای حقوقی وارد محاکم آن ولایت شده است؛ در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) جلد دوسیه فیصله شده، (٦) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد شده، در مورد (۱۱) جلد دوسیه با صدور قرارقضائی اجراآت به عمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱٤۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء شده است.

## د ننگرهار محاکمو په دوو اونیو کې (۳۳۰) دوسیې حل او فصل کړې دي

په دغه راپور کې د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د دوو اونیو (۱٤٤٤/۸/۱۱ هـ ق څخه تر۱٤٤٤/۸/۲۳ هـ ق نېټې) حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په یادو دوو اونیو کې د ننګرهار ولایت محاکمو ته (۱٦۱) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۱) دوسیې مکتوبي اجراء شوې، د (۷۹) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي، (۳۵) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې د ننګرهار ولایت محاکمو ته (۱۳۲) جزائي دوسیې راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱٦) دوسیې مکتوبي اجراء شوې دي، د (۳۱) دوسیو په اړه قضائي قرار صار شوي، (۷۷) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې دوسیې ترکار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۷۱) دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې په دې برخه کې کومه دوسیه نه وه موجوده.

له دې جملې څخه (٦) دوسیې مکتوبي اجراء شوې، د (۷۰) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي، (۵) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولایت سمنگان در جریان دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۱٤) دوسیه، به تعداد (۸۱) وثایق نیز اجرا کرده است

اجراآت دو هفته از تاریخ ۱٤٤٤/۸/۱۱ الی ۱٤٤٤/۸/۲۳ هـ ق ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت سمنگان شامل دواوین استیناف، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق قرار ذیل میباشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳٤) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلاً تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱٦) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۵۹) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۵) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۵) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۱۵) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۲) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۸۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## د میدان وردگ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې د (۱۲۰) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۹۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپور کې له ۱۴۴۴/۸/۱٦/ څخه تر۱۴۴۴/۸/۲۹ هـ ق نېټې د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د تېرو دوو اونیو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۹۰) حقوقي دوسیې د میدان وردګ ولایت اړوند محاکمو ته راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، (۵۰) دوسیې د قضائي قرار په وسیله اجرا شوې، (۲۸) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۱۷)جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، (۸) دوسیې د قضائي قرار په وسیله اجرأ شوې، (۱۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې په تجارتي برخه کې هېڅ دوسیه محاکمو ته نه ده راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې (۳) دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱) دوسیه فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۱۹۰) بېلا بېل وثایق هم اجراء شوي دي.

## محاکم ولایت فاریاب در جریان دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۹٤ ) دوسیه، به تعداد (۵۱٦) وثایق نیز اجرا کرده است

اجراآت دواوین مرافعه، آمریت وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت فاریاب از تاریخ (۱٤٤٤/۸/۱ الی ۱٤٤٤/۸/۱۵) هجری قمری به شرح ذیل مواصلت ورزیده است

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۸۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۲٤) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

پاتې برخه ۳

## گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم...

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۲۷۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جملـــه (۲۹) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۸٤) دوسیه توسط قرار قضـــــائی اجراآت شده، (۱۰۱) دوســـــیه فیصله شده است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**بخش وثایق:**

در جریان دو هفته به تعداد (٥١٦) وثایق مختلف النوع نیز اجراأگردیده است.

## طی دو هفته در آمریت های شش گانهٔ ثبت اسناد و وثایق شهر کابل به تعداد (۸۵۵) وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است

گزارش اجراآت دو هفته‌ی آمریت‌های شش گانهٔ ثبت اسناد و وثایق شهر کابل از تاریخ (۱۴۴۴/۸/۴ الی ۱۴۴۴/۸/۱۵) هـجری قمری به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**۱. آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ اول:**

در جریان دو هفته در آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ اول به تعداد (۳۱)جلد وثیقهٔ نکاح خط، (۴۰) وثیقهٔ زوجیت خط و (۴۷) وثایق مختلف النوع دیگر اجراء گردیده است.

**۲. آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ دوم:**

در جریان دو هفته در آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ دوم به تعداد (۴)جلد وثیقهٔ نکاح خط، (۱۹) وثیقهٔ زوجیت خط و (۱۱۵) وثیقهٔ مختلف النوع دیگر اجراء گردیده است.

**۳. آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ سوم:**

در جریان دو هفته در آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ سوم به تعداد (۲۷) جلد وثیقهٔ نکاح خط، (۷۲) وثیقهٔ زوجیت خط و (۸۱) وثایق مختلف النوع دیگر اجراء گردیده است.

**٤. آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ چهارم:**

در جریان دو هفته در آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ چهارم به تعداد(۷۸) جلد وثیقهٔ نکاح خط، (۳۵) وثیقهٔ زوجیت خط و (۶۹) وثایق مختلف النوع دیگر اجراء گردیده است.

**۵. آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ پنجم:**

در جریان دو هفته در آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ پنجم به تعداد (۶)جلد وثیقهٔ نکاح خط، (۵۵) وثیقهٔ زوجیت خط و (۸۸) وثایق مختلف النوع دیگر اجراء گردیده است.

**۶. آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ ششم:**

در جریان دو هفته در آمریت ثبت اسناد و وثایق حوزهٔ ششم به تعداد(۲۸) جلد وثیقهٔ نکاح خط، (۱۶) وثیقهٔ زوجیت خط و (۴۴) وثایق مختلف النوع دیگر اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت بلخ طی یک هفته علاوه بر حل و فصل (۲۵۲) دوسیه، (۲۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع رانیز اجراء کرده است

توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ از تاریخ ۱٤٤٤/۸/۱۱ هـ ق الی ۱٤٤٤/۸/۱٦هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۱۳٤)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۱) دوسیه طی مکتوب، (۹۶) دوسیه توسط قرار قضائی، (۲۸) دوسیه توسط فیصلهٔ اجراآت گردیده است و متباقی دوسیه تحت ها کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۶۰) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه طی مکتوب، (۳۹)دوسیه توسط قرار قضائی و (۲۳)دوسیه توسط فیصله اجراآت گردیده است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۴۴) دوسیه وارد دواوین مربوطه شده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه ها تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۴) دوسیه طی مکتوب، (۲۰)دوسیه توسط قرار قضائی و (۵)دوسیه توسط فیصلهٔ اجراآت گردیده است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۲۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان (شماره ۳۴۲ج۱، مؤرخ ۱۴۴۳/۷/۲۶ هـ ق) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله قیمت آن اخذ نگردیده است.

## د لغمان د مرافعه محکمې رئیس د علینګار او قرغیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه

د لغمان ولایت د مرافعه محکمې رئیس ښاغلي مفتي عبدالله (فرقاني) د رمضان المبارک د میاشتې په لومړۍ نېټه د علینګار او قرغیو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د چارو د ارزونې او نظارت په موخه یادو ولسوالیو ته سفر وکړ.

د لغمان د مرافعه محکمې رئیس د دغه سفر پر مهال د علینګار او قرغیو ابتدائیه محاکمو د حاضرۍ کتابونه، اداري او قضائي چارې له نږدې وڅارلې.

ښاغلي مفتي عبدالله (فرقاني) د یادو محاکمو مسؤولینو او منسوبینو ته د خبرو پر مهال وویل، زموږ د دې لیدنو څخه هدف دادی چې قضات خپلو چارو ته متوجه کړو ترڅو په پابندۍ سره خپلو وظیفو ته حاضر شي او خدای مه کړه زموږ ځورېدلي هیوادوال د محاکمو د بندو دروازو تر شا ونه دربېږي، د مراجعینو چارې د اسلامي عدالت په رڼا کې په ښه او شفاف ډول ترسره شي.

د مرافعه محکمې د رئیس په خبره، په دې سره به ان شاءالله د هیوادوالو او محاکمو د مراجعینو اوښکې وچې او زړونه به یې ارام شي.

## د کندهار ولایت د مرافعه محکمې د دیوانونو د رئیسانو او غړو ترمنځ اداري غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د شعبان میاشتې په جریان کې د کندهار ولایت د مرافعه محکمې ریاست مقام په دفتر کې د مرافعه محکمې د دېوانونو د رئیسانو او غړو ترمنځ اداري غونډه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د مرافعه محکمې د دېوانونو رئیسانو او غړو ګډون درلود؛ غونډه د قرآن کریم په تلاوت سره پیل شوه .

وروسته د کندهار د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالغفار (بحر) په خپله وینا کې لاندې مهمو ټکو ته اشاره وکړه.

– د وخت ډېر پابند اوسئ، په رسمي وخت کې دې له عذر پرته څوک له محکمې د باندې نه وځي.

– در سپارل شوې دندې خپله وجیبه وګڼئ، قضائي او اداري کارونه د اصولو مطابق په خپل معین وخت کې اجراء کړئ.

– قاضي صاحبان دې په خپلو کې د موضوعاتو په هکله مشورې وکړي ترڅو کارونه اصولي او په خپل وخت اجراء شي .

– له مراجعینو او اصحاب دعوی سره دې په ښه سلوک او نرمه لهجه خبرې وشي او کارونه یې پر معین وخت او اصولي طریقه اجراء کړل شي.

– کوښښ دې وشي چې د خپلو وظایفو تر څنګ دکمپیوټر زده کړې ته هم توجه وشي؛ ځکه اکثریت کارونه دکمپیوټر په ذریعه اجراء کیږي.

– د راتلونکو غونډو لپاره دې موضوعات له مخکې نه توزیع شي؛ ترڅو مسؤولین په غونډو کې د مطرح کېدونکو مسایلو لپاره د حل لاره ولټوي او په غونډه کې پرې بحث وشي.

د غونډې ټولو ګډونوالو له د مرافعه محکمې له محترم رئیس څخه مننه وکړه چې د موضوعاتو د حل لپاره دغه ډول غونډې ترتیب او ترسره کوي.

باید وویل شي چې هره اونۍ کې د سه شنبې ورځ دې یادو غونډو ته ځانګړې شي.

غونډه د خیر په دعا پای ته ورسېده.

## د پکتیا ولایت د محاکمو د مسؤولینو او کارکوونکو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه

د ۱٤٤٤ هـ ق کال د شعبان میاشتې په ۲۸مه نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) د دغه ولایت له اړوند قضاتو، مفتیانو، محررینو، اداري، نظامي او خدماتي کارکوونکو سره په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

ناسته د مولوي عبدالرحمن (زاهد) لخوا د قرانکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د مرافعه محکمې رئیس د ناستې ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل او په خپلو خبرو کې یې زیاته کړه چې د په جماعت سره د لمانځه پابندي وکړئ، د روژې په راتلو او د روژې پر فضلیت یې خبرې وکړې، په روژه کې یې له مراجعینو سره په نېک چلند ټینګار وکړ، درنو قضاتو ته یې سپارښتنې وکړې ترڅو د روژې د میاشتې په خاطر د محبوسینو دوسیې ژر تر ژره وڅېړي او د کمو جرمونو درلودونکي محبوسین دې اصولا له محبس نه خلاص شي.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس د محبوسینو د اجناسو په هکله خبرې او سپارښتنې وکړې.

ناسته د دعا په ویلو سره پای وموند.

## دفتر کاری آمریت حقوق هرات به داخل تعمیر ریاست محکمه استیناف آن ولایت انتقال شد

به تاریخ ۱٤٤٤/۸/۲٦ هـ ق تحت ریاست محترم مولوی عبدالله «قادری» رئیس عمومی محاکم استیناف هرات به شمول محترم مولوی عبدالخالق «روحانی» آمر حقوق هرات و محترم مولوی عبدالحق «حنیف» مدیر عمومی مالی و اداری ریاست محترم عدلیه ولایت هرات در مقر ریاست محکمهٔ استیناف هرات جلسهٔ اداری دایر گردید.

جلسه به نام خداوند لایزال (جل جلاله) آغاز شد؛ بعد از خوش آمدید برای حاضرین در جلسه محترم رئیس صاحب عمومی محاکم استیناف طی صحبت های خویش فرمودکه یک طرح دارای پنج ماده در رابطه به انتقال اداره محترم حقوق از تشکیل وزارت محترم عدلیه به تشکیل مقام عالی ستره محکمه توسط کمیتهٔ متشکل از مقام عالی ستره محکمه، وزارت محترم عدلیه، وزارت محترم مالیه، ریاست محترم عمومی اصلاحات اداری و خدمات ملکی ترتیب گردیده است.

طرح متذکره به اساس حکم نمبر (۱۷٦۹) مؤرخ ۱٤٤٤/٦/٤ هـ ق عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تائید قرار گرفته است و بعداً به اساس متحدالمآل نمبر ۲٦۹۳ مورخ ۱٤٤٤/۸/۱ مقام عالی ستره محکمه غرض تعمیل به این ریاست مواصلت ورزیده است.

بناءً بخاطر تعمیل حکم نمبر فوق عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ایجاب می نماید تا آمریت محترم حقوق هرات دفتر کاری پرسونل خود را از مکان کاری قبلی به تعمیر دفتر کاری مربوط محکمهٔ ابتدائیه شهری هرات انتقال دهد و تماماً امورات اداری و اجراآت کاری خویش را با همآهنگی و همکاری ریاست محکمهٔ استیناف هرات طبق هدایات طرزالعمل منظور شده مورد اجراء قرار دهد.

همچنان به عموماً مدیریت های حقوق ولسوالی های ولایت هرات نیز هدایت داده شود تا تماماً اجراآت خویش را طبق هدایت طرزالعمل با همآهنگی محاکم مربوطه خویش عیار سازند.

بعداً محترم مولوی عبدالخالق «روحانی» آمر حقوق هرات در مورد تعمیل نمودن حکم نمبر فوق عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی اظهار آماده‌گی نمود و در ختم جلسه محترم رئیس صاحب محاکم همراه با اعضای جلسه از تعمیر دفتر کاری‌که برای آمریت محترم حقوق در نظر گرفته شده بود از نزدیک دیدن نمود و در مورد انتقال دفتر کاری آمریت حقوق و غیره نیازمندی ها به مراجع مربوطه هدایت لازم نمود.

سرپرست مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د جزاء دیوان عمومي ریاست قضائي پلاوي د هیواد څلورو ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې د مرکزي تمیز اړوند د جزاء دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله درویش صاحب په مشرۍ د دغه ریاست څلورکسیزه قضائي پلاوي چې محترم مفتي عبدالحی صاحب، محترم مفتي محمد سلیم صاحب او محترم مفتي سیداحمد مزمل صاحب یې غړیتوب درلود په ۱۴۴۴/۸/۱۹ هـ ق نېټه د هیواد څلورو ولایتونو (بلخ، سرپل، جوزجان او فاریاب) ته د جنائي او جزائي موضوعاتو اړوند قضایاوو د څېړلو په موخه سفر وکړ.

د سترې محکمې د جزاء دیوان ریاست دغه پلاوي یادو ولایتونو ته سفر پر مهال د جنائي او جزائي موضوعاتو اړوند شاوخوا ۱۸ دوسیې وڅېړلې، د قضیو طرفین یې د اړوند ولایت استیناف محاکمو ته راوغوښتل او له هغوی څخه یې تحقیقات ترسره کړل.

پر دې سربېره د جزاء دېوان عمومي ریاست قضائي پلاوي د یادو څلورو ولایتونو زندانونو لیدنه وکړه او د جزائي موضوعاتو اړوند بندیانو څخه یې د دوی د برخلیک، محاکمو ته د زندانیانو د قضایاوو د راجع کېدو او نورو مهمو موضوعاتو په تړاو جلا، جلا پوښتنه وکړه.

د ولایتي زندانونو جزائي بندیانو د سترې محکمې د جزاء دیوان له قضائي پلاوي خوښي څرګنده کړه او له دوی یې مننه وکړه چې له نږدې یې د زندانیانو د وضعیت او حالت په اړه پوښتنه وکړه.

## په هیوادکې د نویو شرعي قبالو د وېش بهیر پیلیږي

د سترې محکمې یوه لوړ رتبه پلاوي چې په تشکیل کې یې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم مفتي حزب الله (ابراهیمي)، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد)، د دارالانشاء عمومي ریاست معاون محترم مفتي روح الله (حقاني) او نورو مسؤولینو ګډون درلود، د سه شنبې په ورځ (د ۱۴۰۲ هـ ش کال د وري په لومړۍ نېټه)، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، په هېواد کې د نویو شرعي قبالو د وېش بهیر په اړه، رسنیو سره معلومات شریک کړل.

د دغه رسنیز پروګرام په پیل کې د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد) د پیل وینا وکړه وویل، د ننني پروګرام عمده موخه د قبالو د وېش بهیر پیل او د قبالو د وېش ترتیب بیانول دي.

نوموړي زیاته کړه، دا چې زموږ هیوادوال له کلونو راهیسې د قبالو ترلاسه کولو له ستونزې سره مخ وو، په همدې موخه د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې او نورو اړوند ادارو د قبالو د وېش د طرزالعمل پر طرحه کار وکړ او دغه طرحه یې نهایي کړه.

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس وویل، د قبالو د وېش طرزالعمل او کړنلاره د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د (۳۹) مې مصوبې مؤرخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۸ هـ ق د لومړۍ پرېکړې په اساس تائید شوې ده.

ښاغلي مولوي عبدالرحیم (راشد) څرګنده کړه چې د سترې محکمې او نورو اړوند ادارو لخوا دیادې طرحې په جوړولو سره به د شرعي قبالو د وېش څرنګوالی او په کې د جعل او تزویر مخنیوی وشي، د ځمکو او نورو عقاري ملکیتونو د کمپیوټري قبالو د ترتیب، ثبت او صدرو لپاره به په شفافه او مطمئنه توګه زمینه برابره شي، د ځمکې د نورو املاکو د ملکیت د حق لېږد لپاره به اسانتیاوې رامنځته کړي، پروسه به ساده او ګړندۍ کړي، د عصري ټیکنالوژۍ څخه په استفاده به د ځمکې او نورو املاکو د ملکیت رسمي ثبت ترسره شي.

نوموړي یادونه وکړه چې په شرایطو برابرو هیوادوالو ته به په کابل، بلخ او هرات ولایتونو کې به برېښنایي قبالې او په پاته ولایتونو کې به کاغذي قبالې وېشل کېږي.

ورپسې د دارالانشاء عمومي ریاست معاون محترم مفتي روح الله (حقاني) د اراضي ادارې اړوند د قبالو د وېش مرحلې او مادې په تفصیلي ډول بیان او تشریح کړې وې ویل، که متقاضي غواړي چې قباله جوړه کړي نو مکلف دی چې لومړی د اراضي ادارې څخه د ملکیت د خرڅلاو درخواستي واخلي چې په دغه فورمه کې به د بائع، مشتري، بشپړ شهرت، سکونت اصلي او فعلي ترڅنګ د ځمکې یا ودانۍ ټول مشخصات، موقعیت، حدود او مساحت ذکر او د تابعیت تذکرې یوه، یوه کاپي هم یو ځای کوي او په همدغه فورم کې به واضح کوي چې بایع اصلي مالک او که وارث یا وکیل دی.

محترم مفتي روح الله (حقاني) صاحب زیاته کړه، څنګه چې قبالې تر ډېره په ښاري سیمو کې د ښاروالۍ تر ماسټرپلان لاندې سیمو ته ورکول کېږي نو که یو څوک د همدې سیمې د ځمکې یا کور قباله غواړي، بیا دې په دې اړه د ثبت محفوظ سربېره د مربوطه ناحیې د ملکیتونو د مدیریت څخه معلومات وغوښتل شي، که څوک د ماسټرپلان څخه د بهر د ځمکې یا کور د قبالو جوړول غواړي د سند د ملکیت ونه لري او هغه ساخته تصفیې ته اړتیا ولري نو بیا به د اراضي ادارې څخه د تصفیې ریاست ټیمونه د هغې ساحې تصفیه کوي ترڅو د دولتي او شخصي ځمکې تفکیک او تشخیص وشي

له هغه وروسته د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم مفتي حزب الله (ابراهیمي) په سترې محکمې پورې اړوند د قبالو د وېش بشپړ معلومات وړاندې کړل وویل، نوې قبالې د اسلامي امارت لوګو لري او په لوړ کیفیت ترتیب شوې دي، د ځانګړو بارکوډونو څخه په استفاده په کې د جعل او تزویر بشپړ مخنیوی شوی دی.

د ښاغلي مفتي (ابراهیمي) په خبره، د هیواد ټولو ولایتونو ته نوې چاپ شوې قبالې لېږل شوې دي او له راتلونکې چهارشنبې (۱۴۰۲/۱/۲هـ ش) څخه وروسته به یې په رسمي ډول د وېش بهیر پیل شي.

یاد رسنیز کنفرانس د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم مفتي حزب الله (ابراهیمي) لخوا د خبریالاتو د پوښتنو له ځوابولو وروسته پای ته ورسېد.

## بالای دو تن از مجرمین در ولسوالی چهارسدهٔ ولایت غور تعزیرات شرعی تطبیق گردید

طبق فیصلهٔ نمبر(۹۳) مؤرخ ۱٤٤٤/٦/۷ ریاست محکمهٔ ولسوالی چهارسده و هدایت محترم قاضی القضات و رئیس ستره محکمه، به تاریخ ۱٤٤٤/۹/۱ هـ ق تحت ریاست مولوی عبدالحی رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی چهارسدهٔ ولایت غور بالای دو تن به اساس داشتن جرم اعمال نامشروع جزای تعزیری تطبیق شد.

درگردهمائی که بخاطری تطبیق جزای تعزیری راه اندازی شده بود، مقام های ملکی و نظامی و عدهٔ کثیر از باشنده گان آن ولسوالی حضور داشتند.

این درحالیست که باشنده گان ولسوالی چهارسده از تطبیق احکام شرعی در آن ولایت استقبال کرده و این اقدام امارت اسلامی را برای جلوگیری از همه اعمال خلاف شریعت اسلامی مهم خوانده است.

از رهبری امارت اسلامی مخصوصاً از محاکم خواستند که احکام شرعی را بالای سایر مجرمین نیز تطبیق نمایند؛ تا دیگر کسی نتواند به موضوعات خلاف شرعی روی آورد.

## د سترې محکمې له لوري په قضائي تعلیماتو ریاست کې لس ورځنی قضائي سیمینار پیل شو

د ۱۴۴۴ هـ ق د شعبان میاشتې په ۲۰مه نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تعلیماتو ریاست په تالار کې د لوګر او خوست ولایتونو د قاضیانو، مفتیانو او محررینو لپاره لس ورځنی قضائي سیمینار پیل شو .

یاد سیمینار د مفتي محمد صاحب له لوري د قرآن کریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شو، ورپسې د تعلیمات قضائي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن غزنوي صاحب د سیمینار ګډونوالو ته وینا وکړه.

محترم غزنوي صاحب د سیمینار په اهمیت خبرې وکړې او د سیمینار شرایط، د درسونو اوعملي کارونو د مهال وېش په اړه یې وضاحت ورکړ وویل، په یاد قضائي سیمینار کې د مجربو استادانو لخوا د قضاء برخه کې پر عملي او نظري تدریس سربېره د سیمینار د ګډونوالو بېلا بېل استهداآت راټول او ځوابېږي.

غزنوي صاحب روښانه کړه چې دغه ډول سیمینارونه د قضائي کارکوونکو لپاره ډېر ګټور ثابتېږي، قضاتو ته په کارونو کې پوره تجربه او مهارت حاصلېږي، دوسیو ته پر وخت رسېدنه کولای شي او د خلکو کارونه نه ځنډېږي.

د سیمینار یو تن استاد محترم شیخ صاحب جان صاحب ګډونوالو ته په خپلو خبرو کې وویل، په دغه سیمینار کې د محاکمو قضائي غړو ته د اداري او قضائي اصولنامې، معین القضات، د وثایقو لارښود، د دعوی شرایطو او نورو برخو کې عملي او نظري روزنه ورکول کېږي.

د سیمینار یوه ګډونوال دغه ډول سیمینارونه د قضائي کارکوونکو لپاره ګټور وبلل او د قضائي تعلیماتو ریاست له مسؤولینو په ځانګړې ډول محترم قاضي القضات څخه د مننې ترڅنګ یې هیله مندي څرګنده کړه چې یاد سیمینارونه به د محاکمو د چارو د چټکتیا او لا بهبود سبب شي.

دغه راز د لوګر ولایت د استیناف محکمې د جزا دېوان مفتي او د دغه سیمینار ګډونوال محترم مولوي ذاکرالله قضاء د اسلامي نظام اساس او د ملا تیر وباله وویل، سیمینار په ډېر ښه او مسلکي ډول پرمخ روان دي، په دغه سیمینار کې موږ ته د فیصلې صادرولو ټول ضروري موارد په عملي او نظري ډول تدریس کېږي.

د یادونې وړ ده چې په یاد سمینار کې د مرافعه، ښاري او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو ټول قضائي غړي ګډون لري چې شمېر یې تر ۱۰۴ تنه پورې رسیږي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳